Preview (1 / 10) - ketabton.com

# وسوسې ولې راځي..؟

لیکوال: مولانا ګل رئیس مجددي
ژباړن: ذبیح الله شینواری

Preview (2 / 10) - ketabton.com

EHSAS PUBLISHER 0784882505 - 0705710621
SAHAR
SAHAR PUBLICATION
سهار خپرندویه ټولنه
۰۷۷۹۲۷۳۳۴۵ - ۰۷۷۳۱۵۳۶۳۲

**کتاب پېژندنه**

دکتاب نوم: وسوسې ولې راځي؟
لیکوال: مولانا گل رئیس مجددي
ژباړن: ذبیح الله شینواری
منځپانګه: پدې کتاب کې د وسوسو شتون، شیطاني وسوسې او د وسوسو اړوند واقعات رانغاړل شوي دي
د کتاب چاپبڼه: منځنۍ کچه، سپین کاغذ، 56 مخونه

## کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | وسوسې ولې راځي..؟ |
| لیکوال | : | مولانا گل رئیس مجددي |
| ژباړن | : | ذبیح الله شینواری |
| متن ډیزاین | : | طیب الله نظیرزاده |
| پښتۍ ډیزاین | : | میاخېل |
| چاپ کال | : | ۱۴۰۴ لمریز کال |
| خپرندوی | : | سهار کتابخپرنځی. جلال اباد |
| | | احساس کتابخپرنځی. جلال اباد |

د کتاب د چاپ او په ټولنیزو رسنیو د خپراوي حقوق له خپرندیې ټولنې سره خوندي دي

د ترلاسه کولو ادرس:

جلال اباد: سهار خپرندویه ټولنه، اسحاقزي مارکېټ، بزازۍ څلور لارې

اړیکه: ۰۷۸۹۹۰۴۵۷۷/۰۷۷۹۲۷۳۳۴۵/۰۷۷۳۱۵۳۶۳۲

احساس خپرندویه ټولنه، جلال اباد ۰۷۸۴۸۸۲۵۰۵/۰۷۰۵۷۱۰۶۲۱

Preview (3 / 10) - ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Preview (4 / 10) - ketabton.com

# لړلیک

سریزه ........................................................................1
تقریظ .........................................................................5
تقریظ .........................................................................9
سریزه ........................................................................12
تعریف ........................................................................14
د وسوسې ثبوت ............................................................17
د شیطان د وسوسو نور حدیثونه.........................................18
د وسوسې نه نجات او د الله شکر .....................................19
پایله او نصیحت............................................................19
د وسوسو ډولونه ..........................................................20
د خواطرو نور درې ډولونه...............................................20
د وسوسو صورتونه.........................................................22
لنډیز .........................................................................23
د حضرت عیسی علیه السلام او شیطان کیسه ......................23
د وسوسې حقیقت ..........................................................24
د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبره ...............................24
د وسوسو او وهمونو عجیبه پیښې .......................................24
یوه ژوره تجربه..............................................................28
د وسوسې په اړه څو ضروري خبرې......................................29
په قرآني آیتونو کې د تدبر حکم ........................................32
سجده یوازې د الله تعالی لپاره ده .......................................32
وسوسې هم یو حکمت لري ..............................................33

Preview (5 / 10) - ketabton.com

د نېکۍ او گناه په اراده اجر او مؤاخذه ............................................33
د فکرونو (وسوسو) بېلگه ...........................................................34
وسوسه او گناه......................................................................34
د ذکر قوت او وسوسه.............................................................35
د غیر اختیاري وسوسو څخه وېره او دهغې حقیقت ..........................35
د وسوسو بې ضرره کېدل د ذکر په برکت .......................................36
د وسوسې دوه ډولونه ...............................................................37
ملایکه او شیطان....................................................................38
شیطان څه شی دی؟...............................................................38
د شیطان ذات او حقیقت ...........................................................39
د شیطاني فریب پېژندل فرض عین ...............................................39
د مؤمن بنده ځواک او د شیطان کمزوري.........................................40
وروستی یادښت ....................................................................41
وسوسه او د هغې علاج ............................................................42
تشریح ...............................................................................50

Preview (6 / 10) - ketabton.com


# سریزه

الله تعالی ټول مخلوقات د انسان د ګټې او خدمت لپاره پیدا کړي دي.

الله تعالی فرمایي:

﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا﴾

ژباړه :هماغه ذات دی چې په ځمکه کې یې هر څه ستاسو لپاره پیدا کړي دي. یعنې الله تعالی انسان ته داسې مقام ورکړی، چې ټول نور مخلوقات د ده خدمت ته ګمارل شوي دي.

بل ځای الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾

**ژباړه :**او بېشکه مونږ د آدم زامن عزتمن کړي دي.

کله چې انسان اشرف المخلوقات وي، او الله تعالی ورته دومره عزت ورکړی وي، نو دا هم طبیعي ده چې د ده د ژوند یو لوړ هدف وي. دا هدف د الله تعالی بندګي او اطاعت دی. الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

ژباړه :ما پېریان او انسانان یواځې د دې لپاره پیدا کړي، چې زما عبادت وکړي.

که انسان وغواړي چې خپل دا الهي هدف پوره کړي، او د رسول الله ﷺ د سنتو له مخې عبادت وکړي، نو دا به هم په دنیا کې نېکمرغه وي او هم به په آخرت کې کامیاب وي. خو که له دې هدفه غافل پاتې شي، نه به یې دنیا خوشحاله وي او نه به یې آخرت کامیاب وي.

د بندګۍ لپاره عقلي دلیل

Preview (7 / 10) - ketabton.com



د دنیا ډېر شیان د انسان له شتون پرته هم دوام کولی شي: آسمان، سمندر، لمر، هوا، اوبه، مرغان دا د انسان له موجودیت پرته هم کار کوي. خو انسان بیا د دې ټولو نعمتونو محتاج دی. د آسمان له بارانه، د ځارویو له غوښې، د لمر له تودوخې، د ونو له سیوري او میوو، او د نورو مخلوقاتو له خدماتو پرته د انسان ژوند نیمګړی او سخت دی.

کله چې انسان د دومره نعمتونو احاطه درک کړي، باید د شکر او بندګۍ له لارې خپل مقام وساتي. دا د دنیا یو منل شوی اصل دی چې: که کوم شی له خپل هدفه پاتې شي، هغه بېفایدې او بېکار ګڼل کېږي. همداراز، که انسان هم د خپل هدف (بندګۍ) څخه غفلت وکړي، نو الله تعالی پرې ناخوښه کېږي او د خپل رحمت او نصرت دروازې وربانديې بندوي. بیا نو انسان د شیطان د فریب او وسوسو ښکار شي.

**د زړه مثال**

لکه څنګه چې که د اوبو پاکوالي ته پام و نه شي، نو چینجي، زهرجن حشرات، او ککړتیا پکې پیدا کېږي، همداسې که د انسان زړه له ناروا خواهشاتو، بدو خیالونو، او شیطاني الهاماتو پاک نه شي، نو هلته هم وسوسې پیدا کېږي.

**د وسوسو پایلې او زیانونه**

- دا وسوسې د انسان زړه توروي.
- د عبادتونو څخه یې غافلوي.
- لمونځ، زکات، روژه، او حج ته بېغورې کوي.
- انسان د الله له ذکره لرې کوي.

Preview (8 / 10) - ketabton.com


- د ایمان او تقوا پر ځای یې نفس پر ژوند حاکمېږي.
- له نېکۍ نه یې بدۍ ته وړي.
- د ټولنې لپاره یو درونند بار ګرځي.
- د شخصیت پر ځای بد شهرت وربخښي.
- اولادونه یې له ښو اخلاقو بې‌برخې کېږي.
- د امت پر خیر منفي اغېز کوي.

نن سبا، چې دا د شهواتو او خواهشاتو زمانه ده، تقریباً هر پنځم، شپږم، یا اووم انسان د وسوسو ښکار شوی دی، په ځانګړي ډول ځوان نسل. د دې تر ټولو لوی لامل دا دی چې:

ضرورتونه د فقیرانو پوره کېږي، خو خواهشات د پاچاهانو هم نه ختمېږي.

او همدا د وسوسو اصلي منبع ده — د نفس ناتمام خواهشات.

## د لیکوال هڅه او د کتاب د لیکلو انګیزه

د خلکو دا حال، او د ځوان نسل دا روحاني ناروغي، د حافظ محمد عبدالله په زړه کې یوه ژوره اندېښنه پیدا کړه، نو یې خپل پلار، عاجز صاحب، ته وړاندیز وکړ چې د وسوسو پر موضوع یو کتاب ولیکي، تر څو خلك له دې روحاني مرضه وژغورل شي.

والد صاحب د خپل زوی دا غوښتنه ومنله، او د پاکستان نه متحده عرب امارات ته په سفر، او د روژې مبارکې میاشتې په عمره کې یې د دې کتاب لیکلو نیت وکړ. کله چې یې دا مسوده په لاس کې واخیسته، نو د کعبې طواف یې وکړ، تر څو دا کار د الله تعالی له لورې قبول شي.

Preview (9 / 10) - ketabton.com



په دې کتاب کې د وسوسو پېژندنه، شرعي دلایل، واقعات، او په پای کې د وسوسو د دفع کولو شرعي او عملي لارې بیان شوي دي.

زه دعا کوم چې الله تعالی د حافظ محمد عبدالله دا ارمان، او زما دا مختصر خدمت، د خپل دربار لپاره قبول او منظور کړي، او دا کتاب د مسلمانانو د نجات او اخروي کامیابۍ وسیله وګرځوي.

**آمین یا رب العالمین**

**مولانا ګل رئیس مجددی**

**خادم جامعه دارالهدی (مرکزي)، بنو**

Preview (10 / 10) - ketabton.com



## تقریظ

اسلام یو کامل او شامل دین دی، چې د انسان د ژوند د هرې برخې اصلاح کوي. دا هماغه حق دین دی چې شاوخوا پنځلس سوه کاله وړاندې دنیا ته راغی، او تر نن ورځې پورې سرسبز، شاداب او ژوندی دی.

اسلام یو معتدل دین دی، چې له هر ډول افراط او تفریط څخه پاک دی. دا دومره بشپړ دین دی چې نه یواځې د انسان له ظاهري ژوند سره تړلي مسائل حلوي، بلکې د انسان د زړه او ذهن پټ حالتونه هم تر پوښښ لاندې راولي. اسلام نه یواځې دا چې د دغو داخلي ستونزو پر وړاندې ځواک لري، بلکې د شریعت په رڼا کې یې د حل لارې هم ښودلې دي، تر څو انسان له بدو خویونو او د الله له نافرمانۍ وژغورل شي.

د انسان په زړه کې چې کوم افکار، خیالات او تمایلات راپیدا کېږي، اسلام د هغوی ترمنځ توپیر کوي؛ کوم یې چې د خیر لوري ته انسان بیایي او کوم چې د شر پر لورې. د دغو افکارو او وسوسو په اړه اسلام روښانه لارښوونې کړې، او د انسان دننی نړۍ ته یې هم هدایت کړی دی.

نن سبا، په عصري دور کې، مبایل، انټرنیټ، او نور الکترونیکي وسایل د انسان پام له الهي ذکر، قرآني تلاوت، عبادت، او د خپلوانو سره د وصل له احساسه اړولی دی. سره له دومره اسانتیاوو، بیا هم انسان له بې‌قرارۍ، بې‌اطمینانۍ او رواني فشارونو سره مخ دی. د دغو ستونزو په سر کې، د وسوسې ناروغي ده.

خو سوال دا دی:

PREVIEW

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/QM7nKJT90XK

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.